بسم الله الرحمن الرحيم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۱۰ چنګاښ ۱۴۰۴ ه ش | ۵ محرم الحرام ۱۴۴۷ ه ق | ۱ جولای ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۰۳)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې قضائي مرستيال د ترکيې هېواد له راغلو علماوو سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې قضائي مرستيال محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب، د دارالانشاء عمومي رئيس محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد)، د کارکوونکو چارو عمومي رئيس محترم مفتي سيف الله آغا او د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس محترم مولوي عبدالرحيم (راشد)، د يکشنبې په ورځ (۲۵/ ذوالحجة الحرام / ۱۴۴۶هـ ق) نېټه د ترکيې هېواد څخه د علماوو له راغلي پلاوي سره د سترې محکمې قضاء کتابتون کې وکتل.

د ناستې په پيل کې د سترې محکمې قضائي مرستيال محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب راغلي پلاوي ته هرکلی ووايه زياته يې کړه، زه هم د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په استازيتوب ښه راغلاست درته وايم، ستاسو له حسن نيت او ښې وروړګلوۍ څخه مننه کوو.

محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب زياته کړه، دا د الله تعالی احسان دی چې افغانان يې د اسلامي نظام له نعمت څخه برخمن کړل او په افغانستان کې اوس اسلامي نظام حاکم دی.

وروسته له ترکيې څخه د راغلو علماوو په استازيتوب د اتحاد العلماء نائب ښاغلي محمد بشير (وارول) خبرې وکړې وويل، زه د خپلې اتحاديې په استازيتوب تاسو، د اسلامي امارت مشرتابه او ټول افغان ولس ته د دې سترې بريا مبارکي وايم، ستاسو کلک جهادي عزم و چې اشغالګرو ته مو ماتې ورکړه، الله تعالی دې ستاسو ستړياوې قبولې کړي.

ښاغلي وارول زياته کړه، موږ د افغانانو تکليفونه او زحمتونه ليدل، تاسو له ډېرو ستړياوو وروسته الله تعالی د يو اسلامي نظام په نعمت ونازولئ او د الله تعالی پر ځمکه يې ستاسو په وسيله په نړۍ کې يو بې‌مثاله اسلامي نظام حاکم کړ.

د ناستې په پای کې دواړو لوريو راتلونکې کې د همکاريو لپاره لېوالتيا څرګنده کړه او ترکي پلاوي د اسلامي امارت د قضائي نظام د پرمختګونو ستاينه وکړه.



## د سترې محکمې د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې رياست لخوا د سترې محکمې اداري کارکوونکو لپاره پنځه ورځنی روزنيز سيمينار جوړ شو



د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې رياست، د سترې محکمې محترم عالي مقام د هدايت په اساس، د روزنيزو سيمينارونو په دوام؛ د سترې محکمې د مرکزي رياستونو اداري کارکوونکو د ظرفيت لوړونې په موخه د نهمې دورې پنځه ورځنی روزنيز سيمينار جوړ کړ.

په ياد روزنيز سيمينار کې چې د ۱۴۴۶هـ ق کال د ذوالحجة الحرام مياشتې په ۲۴مه نېټه پيل شو؛ د مسلکي استادانو لخوا د سترې محکمې مرکزي رياستونو د درېيم، څلورم، پنځم او شپږمو بستونو (۲۱) کارکوونکو ته د اداري مراسلاتو، پلان جوړونې اساساتو، اجراآتو د ارزونې، اړيکو او راپور ليکنې په برخو کې روزنه ورکړل شوه.

د دغه روزنيز سيمينار د پای په مراسمو کې د سترې محکمې د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې سرپرست رئيس محترم مولوي عبدالولي (راشد) ګډون درلود.

د غونډې په پيل کې سرپرست رئيس خبرې وکړې وويل، دا چې موږ د اسلامي نظام کارکوونکي يو، که په هره سطحه کې قرار لرو، يو مسؤوليت لرو، د مسؤول شخص څخه به په دنيا او اخرت کې د ورسپارل شوي مسؤوليت پوښتنه کېږي، که چېرې موږ او تاسې دا مسؤوليت په ښه توګه ترسره کړو دا به مو د دنيا او اخرت عزت وي او که په ښه توګه ترسره نشي، دا بيا ذلت دی.

سرپرست رئيس زياته کړه، د اسلامي امارت اړوند ټول محاکم د دې لپاره کار کوي تر څو الهي احکام تطبيق شي؛ دا چې بيا موږ په محاکمو کې کار کوو، نو زموږ او ستاسو مسؤوليت ډېر دروند دی.

دغه راز نوموړي د متعال رب (جل جلاله) څخه د مسؤوليت د ښه سرته رسولو او امانت ساتلو په اړه دعاء وکړه او د سيمينار له ګډونوالو او روزونکو څخه يې د ښه نظم او فعالې ونډې اخيستنې په موخه مننه وکړه.

همداراز د روزنيو سيمينارونو د اصولو سره سم، د پورته ذکر شوي سيمينار ټول ګډونوال د سيمينار په پيل او پای کې وارزول شول؛ ترڅو د سيمينار پايله ښکاره شي چې له نېکه‌مرغه ترسره شوي سيمينار مثبته پايله درلوده.

ياد روزنيز سيمينار په اختتاميه دعا پای ته ورسېد.

د يادونې وړ ده چې د اجراآتو ارزونې او ظرفيت لوړونې رياست د خپل روزنيز پلان له مخې په پام کې لري له دې نهه برنامو وروسته، د روزنيزو سيمينارونو لړۍ د خپلو مالي او تخنيکي امکاناتو سره سم، ټولو ولايتونو ته وغځوي او ولايتي کارکوونکي هم د خپلو روزنيزو سيمينارونو تر پوښښ لاندې راولي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۱**

**نېټه: ۱۴۴۶/۱۲/۲۵ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: : د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د قاچاق د مخنيوي قانون د انفاذ په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر (۲٤) مورخ ۱٤٤٦/۱۱/۲۷ هـ ق.

د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د قاچاق د مخنيوي قانون د مشرتابه محترم عالي مقام د فرمان نمبر (۲٤) مورخ ۱٤٤٦/۱۱/۲۷ هـ ق په توسط تائيد شوی په (۳۱) صفحو کې د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

**په راشده خلافت دوره کې قضاء:**

**دويمه برخه**

او د خلفاء راشدينو په دوره کې قضاء خپله د نبوي دورې د قضاء امتداد و، چې د رسول الله ﷺ د روزنې او ملګرتيا له برکته و، مګر راشده خلافت بيا د جزيرة العرب څخه بهر د اسلام د خپراوي شاهده ده، چې لوی لوی ښارونه فتحه شول، ډېلې ډېلې خلک د اسلام په مبارک دين مشرف کېدل؛ خو دا هم څرګنده خبره ده چې د همدغه فتحه شوو ښارونو حالت داسې نه وو لکه د حجاز او جزيرة العرب او نه هم دا نوي په اسلام کې داخلېدونکي کسان داسې وو لکه مهاجر او انصار صحابه کرام او نورې عربي قبيلې؛ نو د ايمان درجې به يې توپير کاوه او دين باندې د ټينګښت مرتبې يې هم فرق کاوه.

اخذليک: تتمة النظام، ٥٦ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رئيس او مفتشينو د زابل ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالى) او د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د مرکزي تفتيش عمومي رياست او د جنوب لوېديځ زون د تفتيش رياست ګډ پلاوي د مرکزي تفتيش عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن (فراهي) په مشرى، چې د جنوب لوېديځ زون د تفتيش رئيس محترم مولوي سراج احمد (ابوسعيد)، مولوي امان الله (حامد)، مولوي محمد فقير (حنيف) او مفتي محمد اسلام (مسلم) يې غړيتوب درلود؛ د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام مياشتې په ۲۸مه نېټه د زابل ولايت د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړنو په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

دغه پلاوي د سفر او ليدنې په پيل کې د زابل ولايت د مرافعه محکمې له رئيس سره وکتل؛ ورپسې يې د بنديانو ستونزو د څېړلو په موخه د ياد ولايت له مرکزي زندان او توقيف خونو څخه ليدنه وکړه، د زندان او توقيف خونو اړوند د ټولو بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت او غوښتنې يې له ځان سره وليکل او بيا يې د اړوند محاکمو له مسؤولينو سره شريک کړل.

ياد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د زابل ولايت د (۱۱) ولسواليو د ابتدائيه محاکمو، حقوقو مديريتونو، ښاري ابتدائيه او مرافعه محاکمو اړوند ديوانونو، وثايقو آمريت، مخزن، د حقوقو آمريت او نظامي ابتدائيه محکمې څخه جلا جلا ليدنه وکړه.

دغه پلاوي د څارنې بهير په ترڅ کې د يادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي غړو او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخيستل او د چارو د سمون په برخه کې يې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتيش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې او کاري خنډونه له ځان سره وليکل او د ليدنې په وروستيو کې يې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نيمګړتياوو د اکمال په اړه د ياد ولايت د مرافعه محکمې له رئيس سره تفاهمي ناسته وکړه او ځينې ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شريکې کړې.

دغه پلاوي د څارنې او ليدنې په دوام د ياد ولايت ولسواليو د ځينو مسؤولينو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او د ځينو اړوند ستونزو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتيش د څارنې او پلټنې پلاوي ياد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۶هـ ق کال د ذوالحجة الحرام مياشتې په (۲۵) مه نېټه پای ته ورسېد.

## په کونړ ولايت کې يوه مجرم ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کونړ ولايت د بر کونړ (اسمار) ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې يو کس ته د اخلاقي فساد په جرم؛ په ۲۷/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې ياد مجرم پر يوه مياشت تنفيذي بند او ۳۰ دُرو تعزيري سزا محکوم کړی و؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرم تطبيق شوه.

د تعزيري سزا حکم د ابتدائيه محکمې په انګړ کې د مسؤولينو او عامو هېوادوالو په شتون کې پر مجرم تطبيق شو .

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصلۀ محکمۀ ابتدائیۀ شیرین تګاب ولایت فاریاب بالای یک تن به جرم ادعای نیابت امام مهدی و تخریب نظام امارت اسلامی؛ روز چهارشنبه مؤرخ ۲۸/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمۀ ابتدائیۀ مجرم مذکور را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصلۀ بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

جزای تعزیری در حضور قاضی و مفتی محکمۀ ابتدائیۀ، مسؤولین ملکی، نظامی و جمع کثیری از مردم عام تطبیق گردید.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت جوزجان تطبیق شد

به اساس فیصلۀ محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی درزآب ولایت جوزجان بالای دو زن به جرم روابط نامشروع و فرار از منزل؛ روز سه شنبه مؤرخ ۲۷/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمۀ ابتدائیۀ مجرمین مذکور را به سه ـ سه سال حبس تنفیذی و ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد .

جزای تعزیری در حضور رئیس محکمۀ ابتدائیۀ، اعضای قضائی، مسؤولین دیگر ادارات امارتی در محضر عام تطبیق شد.

## د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې څلورم زون لخوا دوو متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کابل ولايت مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائيه محکمې څلورم زون جزا ديوان د پرېکړې له مخې د دوشنبې په ورځ (۲۶/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټه د يوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته چې پر زنا متهم وو؛ تعزيري سزا ورکړل شوه.

د جزا ديوان ياد متهمين په يو ـ يو کال او شپږ ـ شپږ مياشتې تنفيذي بند او ۳۹ـ ۳۹ دُرو تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې دغه پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته د يادې محکمې په انګړ کې پر متهمينو تطبيق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت سرپل تطبیق شد

به اساس فیصلۀ دیوان جزای محکمۀ مرافعۀ ولایت سرپل بالای یک تن به اساس داشتن جرم مجروحیت و تجاوز در حریم؛ به تاریخ ۲۵/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان جزای محکمۀ مرافعه مجرم مذکور را به پنج ماه حبس تنفیذی، ۵۰۰۰ افغانی مصرف تداوی و ۲۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که فیصله مذکور بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه در محوطۀ محکمۀ مرافعۀ ولایت سرپل باحضور داشت رؤسای دواوین، اعضای قضائی، کارمندان اداری، خدماتی، پرسونل نظامی و مراجعین بالای مجرم تطبیق شد.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان از محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی فیض‌آباد آن ولایت بازدید نمود

محترم مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت جوزجان؛ با همراهی یک هیئت به تاریخ ۲۰/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق از محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی فیض‌آباد بازدید نمود.

رئیس محکمۀ مرافعه بخاطر بهبود امور کاری محاکم با در نظرداشت فرامین، متحدالمآل‌ها، تصاویب شورای مقام عالی ستره محکمه در مورد چگونگی اجراآت قضائی و اداری توضیحات و رهنمائی‌های لازم کرد که قرار ذیل است:

۱ـ از کتاب‌های وارده، صادره و کتاب اندراج حقوقی و جزائی آن محکمه ملاحظه و بازدید نمودند و توصیه‌های لازم برایشان نمود.

۲ـ تمام دوسیه‌های حقوقی و جزائی آن محکمه را نیز بررسی و مشاهده نمود، نظریات لازم را برای‌شان توصیه کرد.

۳ـ عرایض که از طرف مراجعین مواصلت می‌ورزد، با دقت کامل مطالعه نموده مشکلات مراجعین را استماع نمائید.

۴ـ توصیه نمودن در رابطه مطالعۀ اصولنامه، مجلة الاحکام، متحدالمآل‌ها، جریده ها و مصوبات واصلۀ مقام عالی ستره محکمه.

۵ـ رویه، سلوک و اخلاق نیک، سهولت و شفقت همراه با مراجعین و مردم در بخش رسیدگی به مشکلات شان طبق اصول.

در اخیر رئیس و اعضای محکمۀ مذکور از رهنمایی‌های ارزشمند، ابراز سپاس و امتنان نمودند؛ اطمینان دادند که به قضایای وارده در وقت معین رسیدگی میشود و عدالت را به وجه احسن تأمین خواهد شد.

بازدید با دعاء خیر خاتمه یافت.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت غزنی از زندان آن ولایت بازدید نمود

محترم الحاج مفتی عزیزالله (حیدری) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت غزنی؛ به تاریخ ۲۶/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق از ریاست تنظیم امور زندان‌های آن ولایت بازید نمود.

رئیس محکمۀ مرافعه در این بازدید در قدم نخست با تمام زندانیان و محجوزین بطور جداگانه ملاقات نمود؛ مشکلات و خواسته‌های شان را از نزدیک استماع نمود، در مورد دوسیه‌ها، وضعیت معیشتی و صحی شان نیز پرسش نمود.

در ادامه اطمینان حاصل گردید که خوشبختانه هیچ زندانی در حالت بی سرنوشتی در محبس قرار نداشت و محبوسین از رویه و برخورد مسؤولین محبس ابراز خرسندی نموده‌اند.

در پایان این بازدید زندانیان خواسته‌های خود را نزد رئیس محکمۀ مرافعه مطرح نمودند که در رابطه، به مسؤولین زندان ولایت غزنی هدایت لازم داده شد.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت لوگر از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های ازره و خوشی بازدید نمود

محترم مولوی شمس الله (عزیزی) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت لوگر؛ با معیتی مولوی سعیدمختار (کریمی) آمر عمومی تحریرات مرافعه، به تاریخ ۲۵/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق غرض بهبود امورات کاری از محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های ازره و خوشی آن ولایت بازدید نمود.

در ابتداء دفاتر حاضری محاکم مذکور، کتب وارده و صادره، رسیدات و اندراج حقوقی و جزائی بررسی و مشاهده گردید، دفتر حاضری و موضوعات اداری‌شان بهتر و همۀ پرسونل محاکم مذکور به وظایف محوله شان حاضر بودند.

در ادامه محاکم متذکره بطور همه جانبه بررسی و نظارت گردید، که در نتیجه کمی و کاستی که در موضوعات اداری، حقوقی و جزائی بود هدایات لازم و تبادل نظر صورت گرفت.

سپس رئیس محکمه مرافعه برای همه پرسونل محاکم متذکره توصیه نمود، با مراجعین رویه، سلوک و اخلاق نیک نموده و در حصه رسیدگی به مشکلات‌شان اقدام جدی، شرعی و اصولی نمائید.

در اخیر ضروریات و پیشنهادات محاکم متذکره الی آخر سال مالی ۱۴۰۴هـ ش یادداشت شد؛ تا در خریداری اجناس مورد ضرورت شان اجراآت اصولی بعمل آید.

## محاکم ولایت هرات طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۱۴۶۲) دوسیه، به تعداد (۱۶۱۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعهٔ، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۶۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۲۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۳) دوسیه فیصله شده، (۱۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۸۲۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۴۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۶۴) دوسیه فیصله شده، (۸۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۲۶) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۳) دوسیه فیصله شده، (۴۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می با شد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت هرات به تعداد (۱۶۱۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۷۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۸۷) وثیقې هم اجراکړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۱۷/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه ۲۹ / ۱۲ / ۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې (۵۷۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۸۷) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۹۵) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۷۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۰) دوسیې فیصله شوې، (۵۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۲۰) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۱) دوسیې فیصله شوې، (۲۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۸۷) بېلابېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## محاکم ولایت بامیان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۷) دوسیه، به تعداد (۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۱۵/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده‌است.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۲۰) دوسیه، به تعداد (۷۲) قطعه را وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها از تاریخ (۱۰/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۲/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۷۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۰) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۷۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۰) دوسیه، به تعداد (۱۰۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۰/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۲/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۰) دوسیه فیصله شده، (۲۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۰۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار از آمریت زندان آن ولایت نظارت نمود

محترم مولوی محمدیوسف (ابوالوفا) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار؛ با همراهی شیخ ابوالفضل (رحیم‌زاد) رئیس دیوان جزای محکمهٔ مرافعه به تاریخ ۲۰/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق از آمریت عمومی زندان ولایت تخار نظارت نمود.

رئیس محکمهٔ مرافعه و هیئت همراه در ابتداء با مسؤولین زندان جهت همآهنگی هر چه بیشتر و رسیدگی به موقع به قضایای زندانیان، نگهداری محبوسین، اعاشه، وضعیت صحی و تربیه درست مجرمین بحث و تبادل نظرنمود و هدایت لازم برای شان نمود.

در ادامه رئیس محکمهٔ مرافعه و هیئت همراه شان اظهارات و مشکلات محبوسین را استماع نموده؛ غرض حل مشکلات و رسیدگی به قضایای مربوطه آنها به محاکم مربوطه هدایت لازم نمود.

رئیس محکمهٔ مرافعه به محبوسین در روشنائی احکام شریعت اسلامی توصیه‌های لازم نمود گفت، زندان‌ها بخاطر اصلاح مجرمین و خطاکاران ایجاد شده است، کوشش نمائید تا از جزاهای تعزیری که از جانب محاکم برای تان صادر شده‌است عبرت حاصل نموده، در آینده مرتکب اعمال خلاف شریعت اسلامی و اعمال ناپسند نشوید، تا به فضل خداوند متعال یک جامعه و محیط سالم خالی از جرایم داشته باشیم.

در اخیر مسؤولین آمریت زندان و زندانیان از تشریف آوری رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت تخار جهت استماع مشکلات زندانیان اظهار امتنان و قدردانی نمود.

## د زابل ولایت شهرصفا ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل شوه

د زابل ولایت شهرصفا ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي عزیز الله په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب په ۲۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق ترافیکي پېښه کې رامنځته شوې د قتل موضوع حل شوه.

یاده ترافیکي پېښه د شهرصفا ولسوالۍ اړوند بریام مانده په سیمه کې د پریس موټر او موټرسایکل د ټکر له امله رامنځته شوې وه؛ چې په پایله کې د موټرسایکل چلونکی په شهادت رسېدلی و.

دغه قضیه ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه؛ وروسته د مسؤولینو په ډېرو هڅو، د قومي مشرانو او علماوو په منځګړیتوب د مقتول وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او موضوع یې رسماً پای ته ورسید.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۲۵) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې (۲۵) کسانو ته د الکولي مشروباتو، نشه‌يي تابلیتو (تابلیت k، ذیکپ) چرسو او شیشې د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو؛ په ۲۲/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له اوو میاشتو څخه تر دوه کاله او شپږو میاشتو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو. دغه پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو تطبیق شوه.

## به تلاش مسؤولین محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت کاپیسا دشمنی میان دو خانواده حل و فصل گردید

به تلاش محترم مولوی عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت کاپیسا؛ به تاریخ ۲۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق عداوت و دشمنی که از سال‌های قبل بین دو خانواده مبنی به کشته شدن دو تن گردیده بود؛ حل وفصل گردید.

در این جلسه علاوه بر رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری مولوی جمال الدین رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، سایر مسؤولین ملکی و نظامی حضور داشتند.

در ابتداء جلسه رئیس محکمهٔ شهری سخنرانی نمود گفت، الحمدلله نظام اسلامی امروز در سرتاسر افغانستان حاکم است، مقتضای نظام اسلامی همین است، که اگر در میان دو خانواده خصم موجود باشد، باید آن را حل و فصل نمود.

موصوف اضافه کرد، این وظیفهٔ ایمانی ماست و محاکم امارت اسلامی همیشه در قسمت صلح طرفین را ترغیت می نماید.

رئیس محکمهٔ شهری کسانی را که در بین این دوخانواده کوشش به صلح نموده قدردانی کرد و گفت محاکم امارت اسلامی در این قسمت همکاری لازم را دارد.

این جلسه بعد از صلح طرفین با دعاء خیر به پایان رسید.



## د روزګان ولایت د محاکمو د مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د روزګان ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي سخیداد (ابوالتقي)؛ د چورې ولسوالی ابتدائیه محکمې د حقوقو مدیر مفتي عبدالودود په دوامداره هڅو او قومي مشرانو په منځګړیتوب په ۲۶/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق د قتل موضوع چې یو کال مخکې رامنځته شوې وه؛ حل او فصل شوه.

د قتل دغه موضوع د یاد ولایت مرکز ترینکوټ سفید خار کلي کې د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې وه؛ چې محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه.

ورپسې د محاکمو مسؤولینو د قضیې دواړه لوري سولې ته وهڅول او له ډېرو هڅو وروسته د مقتول وارثینو سولې ته غاړه کېښوده.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې رئیس او د مدني دېوان مفتي عبدالباري، د ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي جان محمد، نورو مسؤولینو او قومي مشرانو ګډون درلود.

غونډه کې ګډونوالو د اسلامي نظام د بقا او موضوع اړوند هر اړخیزې وېناوې وکړې؛ ورپسې اصلاحي فیصله واورول شوه، یاده موضوع د دواړو کورنیو په رضایت او خوشحالی پای ته ورسېده او یو کلنه دښمني یې په دوستۍ بدله شوه.

د غونډې په وروستیو کې دواړو کورنیو او قومي مشرانو د مسؤولینو د هڅو ستاینه وکړه او د الله (جل جلاله) له درباره څخه ورته د ښه خدمت د توفیق غوښتنه وکړه.



د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

٣

۵ / محرم الحرام / ۱۴۴۷ هـ ق

### د محکمې د پرېکړې تطبیق لپاره د حاضرېدو خبرتیا

د [حمیدالله د امان الله زوی] او [مقابل لوري] نسبتي قضیه چې د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست لخوا د نیمروز ولایت حقوقو آمریت ته د تطبیق په موخه راجع شوې وه. د حقوقو عمومي ریاست د یادې پرېکړې د تطبیق په موخه له محکوم له سره پرله پسې ټلیفوني اړیکې ټینګې کړې خو یاد لوری د پرېکړې د تطبیق په موخه حقوقو عمومي ریاست ته حاضر نشو؛ بناءً [محکوم له] ته خبر ورکول کېږي چې د خپلې دوسیې د تعقیب او محکمې د حکم د تطبیق په موخه د دغه خبرتیا له خپرېدو وروسته تر دوو اونیو حقوقو عمومي ریاست ته حاضر شي، که حاضر نشي نو د حقوقو عمومي ریاست به د سترې محکمې ۲۳/ذوالقعدة الحرام/۱۴۴۶ هـ ق نېټې، (۲۵) ګڼې متحدالمآل مطابق اجراآت وکړي.

Supremecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه



د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه
د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

۴

۵ / محرم الحرام / ۱۴۴۷ هـ ق

### د محکمې د پرېکړې تطبیق لپاره د حاضرېدو خبرتیا

د [وحیدالله د حمیدالله زوی] او [محمد ظاهر د محمد حسن زوی] نسبتي قضیه چې د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې مدني دېوان الف جز لخوا فیصله او د تطبیق په موخه د سترې محکمې حقوقو عمومي ریاست ته راجع شوې وه. د حقوقو عمومي ریاست د یادې پرېکړې د تطبیق په موخه له محکوم له سره پرله پسې ټلیفوني اړیکې ټینګې کړې خو یاد لوری د پرېکړې د تطبیق په موخه حقوقو عمومي ریاست ته حاضر نشو؛ بناءً [محکوم له] ته خبر ورکول کېږي چې د خپلې دوسیې د تعقیب او محکمې د حکم د تطبیق په موخه د دغه خبرتیا له خپرېدو وروسته تر دوو اونیو حقوقو عمومي ریاست ته حاضر شي، که حاضر نشي نو د حقوقو عمومي ریاست به د سترې محکمې ۲۳/ذوالقعدة الحرام/۱۴۴۶ هـ ق نېټې، (۲۵) ګڼې متحدالمآل مطابق اجراآت وکړي.

Supremecourt.gov.af @supremeCourt_af ستره محکمه Supreme Court ستره محکمه د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳